# يوويشتمه فروري
# د مورنيو ژبو نړيواله ورځ
## يو تاثر

خان زمان کاکړ




په 21 فرورۍ د مورنو ژبو د نړيوالې ورځې په مناسبت به مونږ د نړيـوالې ټـولنې نـه غوښتنه وکړو چې پښتو دې د پښتون قام د انساني، مذهبي او بين الاقوامي حق په توګه د يونيسـکو د چـارټر لـه مخـې مکتبونو ته ور پرېښـودل شي، مګر بر عکس قام دښمنو مې مکتبونـه ټـول تبـاه کـړل. وې "پکـه دا دې لا بلـه سـپکه" چې مکتـب نـهٔ وي، تعلـيم پـه څـهٔ کښـې، ژبه په څهٔ کښې؟ وې "زهٔ درنه پوزه پرېکوم، تهٔ نتکۍ غـواړې". پـه مـا ئـې د مکتـب دروازې وتړلې، مکتبونـه ئـې مقتلونـه کـړل چې قام ئې مړ کړ، ژبه خدائے مړه کړه چې وجود مې چا راسره تسليم نهٔ کړ، ژبه به مې خاورې ومني.
سېف الرحمان سليم را ياد شو.

ژبــه چــې غــواړې اول خُلــهٔ پېــدا کــړه
ژبــه عبــث ده چــې دې خُلــهٔ نشــته دے

د خُلې د ګټلو جنګ د تور دوزخي دېو په خُلهٔ کښې بنديوان شو. شپېتهٔ کالـه مـو ورسره د دوي د پـاکې مقدسـې خـاورې سـرود د دوي پـه ژبـه د دوي پـه مکتبونـو کښـې زمزمـه کـړ او پـه تـورو او تتـو تيـارو کښـې مـو د دوي د "سـهار پـه دعـا" لاسونه لپه کړل. خو لمنې مـو سـپينې نـهٔ شـوې، د غـدارۍ هارونـه ئـې را ترغـاړې کـړل، مقتلونـه او ټارچر سېلونه نه ئې رانه ډک کړل. نن چې د باچا خان د نهضت يو څو خپلواک ښوونځي لرو، ماشومان مو ايله "اې زما و طنه د لعلونو خزانې زما" پکښې زمزمه کوي، هم غداران يُو، جدائي غواړُو او ملکي سالميت ته زيان رسوو.

21 فـروري د مورنـو ژبـو پـه حوالـه د هـر ډول تشريحاتو او توضيحاتو نه يو خوا ته بنګالي قامي

تحریک تـه د سُور سلام پـېش کولـو ورځ ده. د دې ورځې اهمیت او انفرادیت هم د بنګالیو د وینو نه عبارت دے. آزادي او خپلواکي په تالي کښې چا تـه نۀ ورکول کېږي.

د پاملرنې وړ نکته ده ځوک چې د غني خان د ترانې د زغم توان نۀ لري، نور به راته خاورې پټکي په سر کړي.

مرئیتوب چې د مرئي شي خُلۀ به لـه ژبې او ژبـه به له خُلې نه ورکه وي "ماله ځانه ژبه پرې کړه، ژبې زۀ له ځانه پرې کړم". غلامي ډېر اذیتونه لري. ځان به درته پردے ښکاري، ضمیر به درته پـردے... نور خو نـو هـر څۀ پـردي دي... وطـن پـردے، سرحدات پردي، واکمن پردي، تـاریخ پـردے، کتـاب پـردے، ژبـه پـردۍ، او... څـۀ چـې مـې خپـل وو، هـغ مـې د




خرمستیو ښکار شول. له پټکي تر تُورې، له قلمه تر کتابه هر څۀ چُور شول، تالان شول، فن ئې مړ کړ، فنکـار ئې مړ کړ، ژبه په سندرو ژوندۍ وي چې سندره هم قتل شي، څۀ به پاتې شي؟

د نفسیاتو ماهرین وائي، د هر قام بچي له په هغـه ژبـه تعلیم ورکـړه، پـه کومـه کښـې چې هغـه خوبونه ویني. مونږ په خوب کښې سپینې فرښتې او خړې جامې لرونکي په جارحانه انداز په پښتو کښې وینو، په ویښه ئې راته هر ځائے پردۍ ژبې غوړولې دي!

د ادبي ببت بـازۍ ښاغلي ئې لـه کلونـو راتـه تکراروي، دنیا غونډ مونډ کلے دے، ګلوبل وېلج دے، د انفارمېشـــن ټیکنـــالوجۍ دور دے... پـــه دواړو سترګو... خـو مـا دې اوس ځـوک پـه دې وړه پښتونخواګۍ کښې پرېږدي، په هر څۀ مې منظور دي.

د مورنیو ژبو د نړېوالې ورځې په حوالـه تـاثر مو صرف خپله غمیزه ژړلې ده. نور د واکمنو نه څۀ قرارداد او فریاد نۀ لرو. مسوول به په خپله د خپـل مسوولیت ادراک کوي. ګني د مشرقي پاکستان نه د بنګله دېش د جوړېدلو دپاره صرف د مورنیو ژبو د نړیوالې ورځ حواله هم کافي ده. مونږ دا ورځ د هم دې حوالې په جذبه لمانځو.

تـاریخ دے رضـا شـوے د یـو جنـګ پـه فېصـلـه قـابو بـه شـي تـر څـو پـوره حـالات پـه زنځیرونـو